مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلې اتمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۹مه | ۶۰۲یمه ګڼه

## څېره


۴ مخ

### دانتې



دانتې د نړۍ په ادبیاتو کې پېژندل شوی نوم دی، د هغه تر ټولو پېژندل شوی او مهم اثر کمیډي نومېږي، چې د نړۍ په سلو تاریخي او مهمو کتابونو کې راځي. دا کتاب یې د دوزخ، برزخ او جنت کیسې کوي.

## کرنې ریاست: روان کال په هلمند کې ۱۲سوه متریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه تولید شوي



د هلمند د کرنې او مالدارۍ رییس زلمی الکو وایي، چې په دغه ولایت کې د غنمو د اصلاح شوي تخمونو د تولید په موخه د غنمو اووه بېلابېل ډولونه یا ورایټۍ کرل شوي وو، چې له دغو کروندو څخه ۱۲ سوه متریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه، چې ۱۲۰ متریک ټنه یې بنیادي او ۱۰۸۰ متریک ټنه یې تصدیقي دي، تولید شوي دي.
د الکو په خبره، ټول یو زر او ۲۰۰ متریک تصدیق شوي تخمونه په لابراتوار کې تجزیه شوي، په بوجیو کې یې ټګ نمبرونه نصب او سرټفکیټونه ورته ورکړل شوي دي.
د هلمند د کرنې رییس دغه راز وایي، چې په یاد ولایت کې د ۱۲سوو متریک ټنو اصلاح شویو غنمو له ډلې به ۸۵۰ متریک ټنه یې د دغه ولایت په بزګرانو او ځمکوالو او پاتې نور به یې یوشمېر نورو ولایتونو ته ولېږدول شي.

# د اسلام اباد دوه مخي که اړتیا؟!

## محمود قریشي: په افغانستان کې د تاوتریخوالي کمولو او سولې په برخه کې همکاري کوو



۳

پاکستان ته د عبدالله سفر او په سوله کې د پاکستان رول
۲ مخ

اطلاعاتو ته لاسرسی؛ افغان خبریالان او ستونزې!
۲ مخ

بېلابېل قومونه د شینجیانګ له ثبات او پرمختګ ګټه اخلي
۳ مخ

## کابینه: له راتلونکې شنبې دې په هېواد کې ټول دولتي ښوونځي په حضوري ډول بېرته پیل شي

کابینې د عامې روغتیا او پوهنې وزارتونو د غوښتنو پر اساس، له راتلونکې شنبې څخه په مرکز او ولایتونو کې په حضوري ډول د دولتي ښوونځیو د پاتې ټولګیو (له لومړي تر لسم پورې) د پیل غوښتنه هم تصویب کړه.
دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې د کرونا وبا له خپرېدو سره هممهاله، د ګڼو نورو ادارو او عامه ځایونو ترڅنګ ښوونځي هم تړل شوي وو، خو څه موده وړاندې له کرونا ویروس سره د مبارزې په پار د لګېدلو محدودیتونو په نرمېدو سره د نورو ادارو ترڅنګ پوهنې وزارت ته هم اجازه ورکړل شوه چې لوړ ټولګي یې کولی شي د روغتیایي مواردو په پام کې نیولو سره په حضوري ډول ښوونځي پیل کړي.
خو د کابینې په یاده پرېکړه کې د ابتدایه او متوسطه ښوونځي نه وو شامل. که څه چې په هېواد کې روان ښوونیز کال په ختمېدو دی، خو پوهنې وزارت وایي چې د دغه کال د نصاب د بشپړېدو لپاره یې اړین تدابیر نیولي دي.
د یادونې ده چې د روان میلادي کال له پیل سره هممهاله په نړۍ کې کرونا ویروس په چټکۍ سره خپور شو، چې د مخنیوي په پار یې په نړدې ټوله نړۍ کې پر ښوونځیو، کاروبارونو، دولتي او ملکي ادارو او ګڼو نورو عامه ځایونو محدودیتونه ولګېدل او د اوږدې مودې لپاره یاد ځایونه کرنتین شوي وو.

## په بین الافغاني خبرو کې اوربند د افغان حکومت او خلکو اساسي غوښتنه ده



۵ مخ

## ولسی جرگه: حکومت تلاش دارد تا ادارات فراقانونی را ایجاد نمایند



ولسی جرگه، حکومت را به ایجاد ادارات فراقانونی متهم کرد وفیصله نمود، که تا تصویب تشکیلات اساسی دولت، حکومت نمی تواند دست به ایجاد و لغو ادارات بزند و این جرگه بودجه ادارات مستقل را تا رفع این مشکل منظور نخواهد کرد.
در نشست دیروز ولسی جرگه شماری ازاعضای این جرگه بر ایجاد ادارات موازی خلاف قانون از سوی حکومت توسط فرامین تقنینی انتقاد کردند و گفتند که رئیس جمهور با صدور حکمی صلاحیت های سه سکتور امنیتی را به مشاوریت امنیت ملی اش سپرده در حالی که این اداره مبنای قانونی ندارد.
منور شاه بهادری نماینده مردم هرات در ولسی جرگه گفت: «شورای امنیت ملی که مبنای و جایگاه قانونی ندارد تبدیل به قدرت دوم شده و یک تشکیل جدا گانه درست کرده است که بودجه بیت المال را حیف و میل می کند.»
حمیدالله حنیف نماینده دیگر مردم هرات دراین جرگه همچنان گفت:«اداراتی که به اساس فرامین تقنینی ایجاد شده به جزء از حیف و میل بودجه ملت، کدام اثر گذاری نداشته است.»
شماری از اعضای دیگر این جرگه در حالی بر ایجاد ادارات مستقل بر اساس فرمان تقنینی رئیس جمهور انتقاد کردند که دیروز کمیسیون عدلی و قضایی این جرگه گزارش بررسی های این کمیسیون در مورد ایجاد، تعدیل و لغو ادارات را به اساس فرامین تقنینی به این جرگه ارایه کرد.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### پاکستان ته د عبدالله سفر او په سوله کې د پاکستان رول

د مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله په درې ورځني سفر پاکستان ته تللی او هلته له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې پر پروسه او په دې پروسه کې د پاکستان پر رول او مرسته خبرې کوي. عبدالله پرون د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره هم کتلي دي. د مصالحې عالي شوار وايي چې عبدالله په افغانستان کې د تاوتریخوالي او سراسري اوربند په تړاو د پاکستنا د لومړي وزیر عمران خان د خبرو هرکلی هم کړی دی.

د افغانستان د سولې په روانه پروسه کې د پاکستان رول مهم دی، خو دا رول له دې امله نه دی چې پاکستان په افغانستان کې د سولې او ثبات ملاتړ کوي او له همدې امله يې له دې پروسې سره مرسته کړې ده. په تېرو کلونو کې چې امریکا غوښتل افغانستان د يو نظامي دهیلز په توګه وکاروي او په افغانستان کې جګړه وي، نو پاکستان د امریکایانو په غوښتنه په افغانستان کې له جګړې او نا امنۍ سره مرسته کوله، خو کله چې د امریکا دریځ بدل شو، ورسره د پاکستان تګلاره هم بدله شوه. له هغه وروسته چې امریکا په افغانستان کې د جګړې د کمولو یا بدلولو او یا هم د سولې پرېکړه وکړه، پاکستان هم د امریکا د ستراتېژۍ په عملي کولو کې د تل په شان مرسته وکړه. که پاکستان پر طالبانو فشار راوست، که يې ملا برادر پرېښود، که يې د پاکستان له هوايي ډګرونو طالب استازو ته اجازه ورکړه چې قطر ته ولاړ شي، دا ټول يې د امریکا په امر او غوښتنه وکړل. پاکستان پخوا هم له امریکا سره د معاملې پر اساس په افغانستان کې تګلارې ټاکلې او عملي کولې او اوس هم د امریکا د تګلارو د عملي کوونکي په توګه مرسته کوي.

د افغانستان حکومت او طالبان دواړه باید د پاکستان دا دریځ درک کړي. که حکومت فکر کوي چې پاکستان به د امریکا له خوښې پرته د افغانستان له حکومت سره د معاملې یا مرستې لپاره د سولې په برخه کې کوم ګام واخلي، دا لویه تېروتنه ده. همداسې که طالبان هم فکر کوي چې د دوی او پاکستان معامله ټاکونکې ده، دوی هم تېروتنه کوي، ځکه چې پاکستان که له طالب سره دښمني کړې او که يې دوستي دواړه يې د امریکا په غوښتنه کړې دي او له دې وروسته به هم همدا کوي. له همدې امله دواړه اړخونه باید له پاکستان سره په چلند کې احتیاط وکړي، ځکه چې پاکستان غواړي د هغه څه په بدل کې هم له افغان حکومت او هم طالبانو امتیاز واخلي، چې دوی يې د امریکا لپاره کوي.

له بده مرغه د افغانستان حکومت په همدې ناسم پوهاوي کې را ګیر دی. پخوا هم ولسمشر غني پاکستان ته يو اړخیز امتیازات ورکړل، خو پاکستان له تشو ژمنو ور هاخوا ورسره هېڅ ونه کړل. اوس که ډاکټر عبدالله او یا حکومت هم له پاکستان څخه څه غواړي، پاکستان به یوازې هغه څه کوي چې د امریکا غوښتنه وي، خو که د حکومت او امریکا غوښتنه یوه وي، نو پاکستان به هغه کوي او له دواړو به امتیاز اخلي. له همدې امله حکومت او طالبان دواړه باید له پاکستان سره په چلند کې احتیاط وکړي او دا درک کړي چې پاکستان هر څه د امریکا په غوښتنه کوي.

# اطلاعاتو ته لاسرسی؛ افغان خبریالان او ستونزې!

لیکنه: د پوهنتون استاد او خبریال نعمت الله عزیزي

پرون د سپتمبر ۲۸مه اطلاعاتو ته د لاسرسي نړیواله ورځ وه. دا ورځ په ۲۰۱۵ ز کال کې د یونسکو عمومي کنفرانس کې اطلاعاتو ته د لاسرسي د نړیوالې ورځې په توګه اعلان شوه، چې هر کال د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې په دې هکله د شته ستونزو په شننې او ارزونې سره، دا ورځ نمانځل کېږي.

اطلاعاتو ته لاسرسی بشري حق، د اغېزمن ژوند او سمو پرېکړو کولو او د پوهې تر لاسه کولو بنسټیز عنصر دی. انسانانو دې حق ته د رسېدو لپاره سختې ستونزې ګاللې او لا هم دا لړۍ دوام لري، آن په ۲۱مه پېړۍ (د اړیکو پېر) کې هم انسانان په دې تړاو له ډېرو ستونزو سره مخ دي او هڅه کوي چې د یوه طبیعي او بشري حق په توګه يې په ډیکتاتورو نظامونو او واکمنو ومني.

الله جل‌جلاله انسان یو پلټونکی او د هر څه په هکله د پوهېدو لپاره هڅه کوونکی مخلوق پیدا کړی او د پوهې تر لاسه کولو امر يې ورته کړی، خو اطلاعاتو او معلوماتو ته نه لاسرسی يې پر وړاندې ستر خنډ دی، ځکه اطلاعاتو ته لاسرسی د پوهې بنسټ او د الله پاک د دې امر د عملي کولو بنسټیز اصل ګڼل کېږي.

**اطلاعات څه دي؟**

مانا لرونکي او تنظیم شوي معلومات اطلاعات بلل کېږي. یا په لنډ ډول که ووایو د مشخصې موضوع په اړه تنظیم او ترتیب شویو معلوماتو ته اطلاعات ویل کېږي.

همدارنګه اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په درېیمه ماده کې راغلي: «هر ډول ضبط شوي یا ثبت شوي، لیکل شوي، انځوریز، غږیز، نمونه یا موډل سند او معلومات اطلاعات بلل کېږي.»

**په نړیوالو او ملي قوانینو کې اطلاعاتو ته لاسرسی**

لکه څنګه مو چې اطلاعاتو ته لاسرسی بشري حق، د پوهې د تر لاسه کولو او د الله پاک د امر د عملي کولو بنسټیز عنصر وبللو، په دې برخه کې څېړو چې نړیوالو او ملي قوانینو دې حق ته په کومه سترګه کتلي دي.

اطلاعاتو ته لاسرسی د نړیوالو قانوني اسنادو په ځانګړي ډول د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې په ۱۹مه ماده او همدارنګه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ۱۹مه ماده کې د انساني حقونو له ډلې ګڼل شوي او ملاتړ يې شوی دی.

د دې تر څنګ، په ۲۰۱۵ ز کال کې د یونسکو عمومي کنفرانس کې د سپتمبر ۲۸مه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د نړیوالې ورځې په توګه اعلان شوه، چې هر کال د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې په دې هکله د شته ستونزو په شننې او ارزونې سره، دا ورځ نمانځل کېږي.

له نېکمرغه د افغانستان د اساسي قانون په ۵۰مه ماده کې هم اطلاعاتو ته لاسرسی د افغانانو قانوني حق پېژندل شوی دی. هغه کې راغلي: «د افغانستان اتباع حق لري چې د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات تر لاسه کړي. دا حق د نورو حقونو او عامه امنیت ته له زیان رسولو پرته، حدود نه لري.» (د اساسي قانون ۵۰ مه ماده)

د دې تر څنګ د افغانستان د ټولیزو رسنیو قانون په پنځمه ماده کې هم دا حق په رسمیت پېژندل شوی او دولتي ادارې مکلفې شوې، چې غوښتل شوي اطلاعات د هېوادوالو په واک کې ورکړي.

له دې سربېره، په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي ځانګړی قانون د ۱۳۹۳ لمریز کال د تلې په ۲۶مه په ٦ څپرکو او ۳۲ مادو کې تصویب او د ولسمشر لخوا توشیح شوی دی او وروستیو تعدیلونو پکې لا ډېرې آسانتیاوې رامنځ ته کړې دي. له نېکه مرغه دا قانون د محتوا او اطلاعاتو ته د لاسرسي د آسانتیا په هکله د نړۍ او سېمې د ډېری هېوادونو په پرتله غوره قانون بلل کېږي او په ۱۳۹۷ لمریز کال د کاناډا د حقوقو او ډیموکراسۍ مرکز چې په نړۍ کې اطلاعاتو ته د لاسرسي چارې ارزوي، دغه قانون د نړۍ په کچه مخکښ او تر ټولو غوره قانون وبللو.

**په عملي ډګر کې خنډونه او ستونزې**

په داسې حال کې چې اطلاعاتو ته لاسرسی بشري حق او په افغانستان کې هم د قانون له مخې یو پېژندل شوی حق ګڼل کېږي، خو په عملي ډګر کې په دې برخه کې ستونزې لا پر خپل ځای دي او اطلاعاتو ته لاسرسی لا هم د ځینو لخوا د قانوني حق په توګه نه پېژندل کېږي.

خبریالان چې د ټولنې د سترګو حیثیت لري او اطلاع رسونه يې یوه له مهمو دندو ګڼل کېږي، په دې برخه کې له خورا ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، په داسې حال کې چې دا قانون اطلاعاتو ته پر وخت د لاسرسي لپاره نافذ شوی دی، خو دولتي ادارې او مسوول چارواکي تل په دې هکله ستونزې جوړوي او خبریالانو ته پر وخت اطلاعات نه ورکوي.

سره له دې چې د دې قانون د اتمې مادې په دویمه برخه کې اداري مکلفې شوې دي، چې خبریالانو او رسنیو ته ژر تر ژره یا حد اکثر د یوې کاري ورځې په ترڅ کې غوښتل شوي اطلاعات ورکړي، خو ډېر وخت په خپله ویندویانو او د اطلاع رسونې چارواکو ته هم لاسرسی نه کېږي او په وخت نه موندل کېږي، له لاسرسي وروسته هم کوم اطلاعات يې چې خوښه شي، له خبریالانو سره شریکوي او کوم يې چې خوښه نه وي، خبریالان د میاشتو په انتظار سره هم ورته لاسرسی نه لري. آن تر دې چې له رسنیو او خبریالانو سره دوه ګونی (مور او میرې) چلند کوي. له ځینو رسنیو او خبریالانو سره اطلاعات شریکوي او له ځینو سره آن خبرو کولو ته هم نه حاضرېږي.

له دې سره سره د څېړنیزو خبریالانو پر وړاندې ستونزې بیا څو چنده دي، ځکه مسوول چارواکي فکر کوي چې څېړنیز خبریالان يې د فساد، بډو، اختلاس او... په هکله راپور چمتو کوي، نو په دې اساس تر ډېره هڅه کېږي چې اطلاعات پټ پاتې شي او خبریال تېر ایستل شي، د دې لامل هم په فساد کې د چارواکو ښکېلتیا ده، چې ځینې راپورونه او د خبریالانو تجربې هم د همدې خبرې ګواهي ورکوي.

کله مې چې له یوه رسنیزي اداري سره د څېړنیز خبریال په توګه کار کاوه، اطلاعاتو ته د لاسرسي په هکله دې پایلې ته ورسېدم چې په افغانستان کې د هر څه قانوني کېدو لاره ډېره اوږده ده او لا ډېر کار ته اړتیا شته چې لږ تر لږه له قوانینو خپله چارواکي او قانون پلي کوونکي خبر شي.

د بېلګې په توګه، کله مې چې په هېواد کې د بې کارۍ د وضعیت په هکله راپور جوړولو او له اړوندو چارواکو مې معلومات وغوښتل، هغوی هڅه کوله چې شته اطلاعات پټ کړي، کله مې چې د قانون یادونه وکړه وایي: «قانون مانون پرېږده، ته باید رسمي مکتوب ولرې، موږ څه پوهېږو چې دا معلومات څه کوې، موږ هم مسوولیت لرو...»

که له یوې خوا خبریالان پر وخت اطلاعاتو ته لاسرسی نه لري او په دې برخه کې له قانون څخه د چارواکو ناخبري او قانون ته نه ژمنتیا سترې ستونزې ګڼل کېږي، نو له بلې خوا د مسوولو چارواکو نه دقت هم ستره ستونزه ده او ډېر وخت ناکره معلومات رسنیو او خبریالانو ته ورکوي چې بیا رسنۍ او خبریالان هم تر نیوکو لاندې راځي.

د بېلګې په توګه، د سړک جوړونې د یوې سترې پروژې په هکله مې له اړوندې دولتي اداري څخه د اطلاعاتو غوښتنه وکړه، چې د قانون خلاف د څو اونیو انتظار وروسته ناکره او له دقت لرې معلومات راته واستول شول، چې په ترڅ کې يې د یادې پروژې د سړک اوږدوالی چې ۷۰۵ کیلومترو په شاوخوا کې و، ۳٦۰ کیلومتره ښودل شوی و او له بیا بیا ژمنو سره سره يې سم او کره اطلاعات را سره شریک نه کړل.

دا کوچنۍ بېلګې دي چې یادونه يې وشوه، افغان خبریالان له ډېرو داسې ستونزو سره مخ دي چې ډېر کله يې ویل ناشوني وي او دا چې هره شېبه له نا مناسب چلند، توهین، تحقیر، وهلو ډبلو، د وسایلو ماتولو او آن د مرګ له ګواښ سره مخ دي او هېڅ ډول خوندیتوب نه لري، په هکله يې ډېر څه لیکل شوي چې بیا یادونه يې مناسبه نه ګڼم.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ۱۳۹۷ لمریز کال په لومړیو کې (په افغانستان کې د بیان د آزادۍ حق ته لاسرسی) په نوم یوه سروې تر سره کړه، چې وایي، نږدې ۱۰ سلنه مرکه کوونکو ویلي دي چې له ادارو څخه اطلاعاتو ته لاسرسی نا ممکنه دی.

همدارنګه ۴۳.۷ سلنه خلکو ویلي چې اطلاعاتو ته لاسرسی محدود او تر کنټرول لاندې دی، نږدې ۳۱ سلنه خلکو بیا ویلي چې اطلاعاتو ته لاسرسی ډېر ستونزمن او پروسه يې اوږده ده او یوازې ۱۴.۳ سلنه خلکو ویلي چې اطلاعاتو ته لاسرسی آسانه او له کومې ستونزې سره مخ نه دی.

دا شمېرې هېښوونکې ځکه دي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون له نافذېدلو څخه ۵ کاله وروسته هم یوازې ۱۴.۳ـ سلنه خلک اطلاعاتو ته د لاسرسي په هکله د ستونزو یادونه نه کوي، خو پر وړاند يې نږدې ۷۵ سلنه د ستونزو او محدودیتونو یادونه کوي او پاتې نږدې ۱۰ سلنه لا هم په دې باور دي چې له دولتي ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کول نا ممکن دي.

**څه باید وشي؟**

سره له دې چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون، له خبریالانو او رسنیو څخه د ملاتړ بېلابېلې ټولنې او د رسنیو او حکومت ګډه کمېټه له خبریالانو څخه د ملاتړ، شته ستونزو ته د رسېدنې او اطلاعاتو ته د لاسرسي چارو د ښه تنظیم په موخه فعالیت کوي او په ډېری برخو کې يې کړنې د ستاینې وړ هم دي، خو لکه څنګه مو چې مخکې اشاره وکړه په دولتي ادارو کې له دې قانون څخه آن د رییسانو تر کچې مامورین خبر نه لري او ځان ورته ژمن نه ګڼي، ټېټ پوړي خو آن ورته د کوم سند په سترګه هم نه ګوري، نو دې وضعیت ته په کتو سره باید د حل لارې ولټول شي.

زما په باور، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون مکلفیت او دنده لري چې د دې قانون په هکله لومړۍ په دولتي ادارو کې د عامه پوهاوي پروګرامونه جوړ کړي او بیا د ټولیزو او ټولنیزو رسنیو له لارې دا پروګرامونه پراخ کړي او همدارنګه لکه څنګه چې د دې قانون د دوولسمې مادې پر بنسټ اداري مکلفې دي، چې د اطلاع رسونې مسوولې مراجع او ځانګړې کارکوونکې ولري، نو دا مراجع او چارواکي باید د خپلې اړوندې اداري مامورینو ته د دې قانون په هکله عامه پوهاوی ورکړي، چې دا کار په ډېرې آسانۍ سره د روزنیزو ورکشاپونو له لارې د عملي کېدو وړ دی. په داسې حال کې چې ډېری دولتي اداري آن له دې قانون څخه خبر نه لري.



# ښلابېل قومونه د شینجیانګ له ثبات او پرمختګ ګټه اخلي

لیکواله: غوټۍ
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله

د شینجیانګ په اړه د چین د کمونېست ګوند درېیمه کاري غونډه څو ورځې مخکې د چین په پلازمېنه بېجینګ کې تر سره شوه. د بې وزلۍ له منځه وړل او د خلکو د ژوند ښه والی په دغه غونډه کې عمده موضوعات وو. د چین د دولت رییس شي جین پینګ د شینجیانګ په جنوبي برخه کې د خلکو د ژوند ښه والي ته ډېره پاملرنه کړې ده او کوي یې. د شینجیانګ جنوبي برخه یانې د شینجیانګ د تیان غره په جنوبي لمن کې پرته منطقه ده. پخوا د کاشغر، ختن او قزلسو قرغیز کورواکه سیمې په شمول، په ځینو سیمو کې په درېو کورنیو کې یوه بې وزله کورنۍ وه، نو ویل کېږي چې په دې سیمه کې د بې وزلۍ د له منځه وړلو کارونه له زیاتو ستونزو سره مخ دي.

سږ کال مې د سپټمبر له اوومې تر پنځلسمې نېټې د بایغولن مغولي کورواکې سیمې، کاشغر سیمې او قزلسو قرغیز کورواکې سیمې په شمول، د شینجیانګ د جنوبي برخې له ډېرو ځایونو څخه لیدنې وکړې او هلته مې له استوګنیزو سیمو، علاقه‌داریو او کلیو، فابریکو او په کرنیزو فارمونو کې مرکې وکړې. له نږدې مې لیدلي چې د شینجیانګ د جنوبي برخې په ښلابېلو ځایونو کې ځایي اوسیدونکي د مرکزي حکومت او ځایي حکومتي اداري په لارښوونه د نویو استوګنځایونو د ابادۍ، د تولیدي او کرنیزو چارو د ابادۍ په شمول، له ښلابېلو لارو چارو د بې وزلۍ له حالته وتلي او ژوند یې شتمن او ښه شوی دی چې د هر کس په مخ او شونډو موسکا لیدل کېږي.

ځوان اکرام ابلیمیت له خپل پلار، مور او دوو خویندو سره یو ځای د شینجیانګ د کورلا ښار د اوات علاقه‌دارۍ د اوشاکتراک په کلي کې ژوند کوي. د اکرام ابلیمیت کورنۍ د دوو هکټارو په پراخوالي فارم کې د کورلا ځانګړي ناک کرلي. تېر کال د ناکو د پلورلو او د سیلانیزو چارو د پرمختګ په رڼا کې د دوی د کورنۍ کلنۍ ګټه دوو لکو یوانو یانې دوو میلیونو افغانیو ته رسېدلې ده.

د معلوماتو له مخې، په اوات علاقه‌دارۍ کې د ناکو د کرلو مساحت کابو ۵۷۰۰ هکټارو ته او د ناکو کلنۍ تولیدي اندازه ۱۰۵ زرو ټنو ته رسېدلې ده. په ۲۰۱۹ ز کال کې په دغه علاقه‌دارۍ کې د ناکو ارزښت ۳۳۰ میلیونو یوانو یانې ۳ میلیاردو او ۳۰۰ میلیونو افغانیو ته رسېدلی دی.

د خیرالله حسن کورنۍ چې ۵ غړي لري، په ۲۰۱۸ ز کال کې له اژملي کلي څخه د اتوش ښار د اغو علاقه‌دارۍ د نیکمرغه کور په نوم استوګنځای کې کور ته انتقال شوي. پخوا د دوی کورنۍ صفر اعشاریه دوه هکټاره کرونده درلوده. څرنګه چې د اقلیم او خاورو شرایط سخت او مناسب نه وو، نو حاصلات او ګټې یې لږ وې، چې هر کال یوازې څو زره یوانه وو. نوي کور ته له انتقال وروسته ځایي حکومت د دوی د ژوند د ښه والي لپاره په وړیا توګه دوی ته دوې تودې خونې ورکړې او د کرنیزو چارو په اړه یې لارښوونې او معلومات هم ور زده کړې دي. اوس د خیرالله حسن کورنۍ په دوو تودو خونو کې د سرو بانجانو او مرچکو په روزلو سره هر کال څه باندې ۴۰ زره یوانه یانې ۴ لکه افغانۍ ګټه تر لاسه کولی شي. پر دې سربېره، هغه په فارغ وخت کې د نجارۍ کار له لارې څه باندې ۳۰ زره یوان یانې ۳ لکه افغانۍ هم ګټلی شي. ژوند یې له بې وزلۍ څخه وتلی او ورځ په ورځ ښه شوی دی.

د اغو علاقه‌دارۍ د نیکمرغه کور په نوم د استوګنې په سیمه کې د خیرالله حسن د کورنۍ په شان ۱۰۷ کورنۍ اوسېږي. ځایي حکومت د دوی لپاره ۳۴۵ تودې خونې جوړې کړې او ځایي بزګرانو ته یې د سبزیو او میوو د کرلو طریقې هم ښوولې دي.

د کاشغر سیمې د کومکسار په علاقه‌دارۍ کې کابو ۳۰۰ بزګران د انځورګرۍ په برخه کې لوی مهارت لري. دوی هر کال څه باندې ۵۰۰۰ انځورونه جوړولی شي. ځایي بزګرانو له ۱۹مې پېړۍ څخه د انځورګرۍ هنر ته مخه کړې او د تېرې پېړۍ له منځنۍ دورې څخه دغه چارې ګام په ګام غوړېدلې دي. په تېرو څو کلونو کې ځایي حکومت د بزګرانو د انځورونو پر اساس سیلاني چارې نورې پیاوړې کړې، لا زیات سیلانیان د دې سیمې سیل کوي او په دې اساس ځایي بزګران ښه عایدات تر لاسه کولی شي او ژوند یې ورځ په ورځ ښه شوی دی.

د شمېرنې له مخې، له ۲۰۱۴ ز کال څخه تر ۲۰۱۹ ز کال پورې په شینجیانګ کې د کورنیو تولیداتو عمومي اندازې د منځنۍ کلنۍ زیاتوالي انډول په سلو کې اووه اعشاریه دوه و، چې دغه انډول د چین له منځنۍ انډول څخه لوړ و. په شینجیانګ کې د بې وزلۍ د رامنځ ته کېدو انډول له نولس اعشاریه څلور سلنې څخه یو اعشاریه څلورویشت سلنې ته ټیټ شوی دی. د اټکل له مخې به د ۲۰۲۰ ز کال تر پایه پورې په شینجیانګ کې ټول اوسیدونکي له بې وزلۍ څخه ووځي. دغه راز په تېرو شپږو کلونو کې د چین د مالیې مرکزي څانګې د شینجیانګ د پرمختګ لپاره څه باندې ۲۰۰۰ میلیارده یوانه پانګونه کړې ده.

د سږ کال د اکتوبر لومړۍ نېټه به د شینجیانګ د اویغور کورواکې سیمې د جوړېدو له ٦٥مې کالیزې سره برابره وي. په تېرو ٦٥ کلونو کې شینجیانګ د ټولنې، اقتصاد او ښوونې په شمول، په ښلابېلو ساحو کې د لیدو وړ بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي. ما له شینجیانګ څخه د خپلې لیدنې په ترځ کې احساس کړې، چې د شینجیانګ د ښلابېلو قومونو خلک له ټولو چینایانو سره یو ځای د خپلو کوښښونو له لارې د ټولنې ثبات، د اقتصاد سمسورتیا او د ژوند ښه والی تجربه کړی دی. د هر کس په څېره کې او د هغوی په مخونو باندې لا د روښانه راتلونکې خوږه موسکا له ورایه لیدل کېږي. دا د شینجیانګ د پرمختګ ډېرې ښې نښې نښانې او شواهد دي.

# د اسلام اباد دوه مخي که اړتیا؟!

## محمود قریشي: په افغانستان کې د تاوتریخوالي کمولو او سولې په برخه کې همکاري کوو



د سولې په تودو بحثونو او هڅو کې ډاکټر عبدالله عبدالله پاکستان ته سفر کړی دی. سفر د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان په رسمي بلنه شوی او درې ورځې به دوام کوي. د ملي مصالحې عالي شورا مطبوعاتي دفتر پرون سهار په یوه اعلامیه کې وویل چې د ډاکټر عبدالله د سفر موخه د سولې په اړه له پاکستاني چارواکو سره خبرې کول دي. عبدالله اسلام اباد ته له رسېدو سره سم د پاکستان بهرنیو چارو وزارت ته لاړ او له پاکستاني چارواکو یې وغوښتل چې طالبان اوربند او د تاوتریخوالي کموالي ته وهڅوي.

سره له دې چې پاکستان په افغانستان کې د روانې څلوېښت کلنې جګړې ستر ملاتړی بلل کېږي، خو په دې وروستیو کې داسې ښيي چې ګواکې په افغانستان کې د سولې غوښتونکي دي. دوی ویلي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ یې د خبرو زمینه برابره کړه او ورسره جوخت یې د بین الافغاني خبرو لپاره هم هڅې پیل کړې دي. د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په مراسمو کې د روانو مذاکراتو ټول امتیاز پاکستان ځان ته ځانګړی کړی او د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي وویل چې دوی په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو په لټه کې دي.

له دې بحثونو سره د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د افغانستان د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله ته بلنه ورکړه چې اسلام اباد ته رسمي سفر وکړي او د سولې په اړوندو مسایلو به بحثونه کېږي. څو ورځې وړاندې ولسمشر غني بیا عمران خان ته بلنه ورکړه چې کابل ته راشي. ډاکټر عبدالله عبدالله پرون اسلام اباد ته لاړ او دا سفر به دوې ورځې نور هم دوام کوي. هغه په لومړي سر کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي سره وکتل او ټاکل شوې چې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان، له ولسمشر عارف علوي او د پوځ له مشر قمر جاوید باجوه سره هم وګوري. په دې لیدنو کې به تر ټولو ډېر تمرکز پر افغان سوله وي او له قریشي سره په لیدنه کې ډاکټر عبدالله عبدالله ټینګار وکړ چې پاکستان باید طالبان د تاوتریخوالي کمولو ته وهڅوي.

د ملي مصالحې عالي شورا له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، ډاکټر عبدالله عبدالله له پاکستان وغوښتل چې طالبان د تاوتریخوالي کمولو ته وهڅوي؛ ځکه که داسې ونه شي، نو د سولې پروسه به له خنډونو سره مخ شي. عبدالله ټینګار کړی چې د سولې له خبرو سره هممهاله د تاوتریخوالي دوام معقول چلند نه دی.

له دې سره جوخت د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي په دې لیدنه کې ډاکټر عبدالله عبدالله ته ډاډ ورکړی چې د سولې په برخه کې به خپلې همکارۍ ډېروي. د قریشي په وینا، پاکستان د افغانستان ملي حاکمیت او ارضي تمامیت ته بشپړ درناوی لري او په دغه هېواد کې د مداخلې سیاست نه لري. نوموړي ویلي چې له افغانستان سره د ښو اړیکو د لرلو په لټه کې دي او هڅه کوي چې په دغه هېواد کې د روانې جګړې په پای ته رسولو کې پوره همکاري وکړي.

پاکستان داسې مهال له افغان حکومت سره د اړیکو جوړولو په لټه کې دی، چې ویل کېږي طالبان د دغه هېواد له نفوذه وتلي دي. تازه ځینو نړیوالو رسنیو په خپلو تحلیلونو کې ویلي، پاکستان وېره لري هسې نه چې طالبان د دوی پر ضد ودرېږي او له کنټروله یې ووځي. ځینو رسنیو بیا داسې تحلیل کړی و چې پاکستان اوس پر طالبانو هېڅ واک نه لري او دغه ډلې په مستقیمه توګه له امریکا سره اړیکې جوړې کړې دي. بلخوا په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو بهیر لا هم ګونګ دی او پرمختګ پکې نه تر سترګو کېږي. دواړه لوري هڅه کوي پراختلافي مواردو هوکړې ته ورسېږي، خو تر دې دمه داسې څرک نشته چې دغه اختلافونه به څه وخت حل کېږي.

# عراق ته د امریکا تازه خبرداری؛

## که د شیعه ملېشو د بریدونو مخه ونه نیسی، واشنګټن به په بغداد کې خپل سفارت وتړي



د امریکا متحده ایالتونو خبرداری ورکړی که د شیعه ملېشو د بریدونو مخه ونه نیول شي، واشنګټن به په بغداد کې خپل سفارت وتړي. ګڼو رسنیو د امریکایي او عراقي چارواکو له خولې ویلي چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په دې وروستیو کې د عراق مشرانو ته خبردای ورکړی که عراق د امریکا په پوځي او ډیپلوماتیکو ځایونو د بریدونو د درولو لپاره کار ونه کړي، دوی به هلته خپل سفارت وتړي. د رسنیو د راپورونو له مخې، پامپیو دا خبره عراقي چارواکو ته کړې او عامه کړې یې نه ده.

دا په داسې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ورمه ورځ په یوې اعلامیې کې وویل: «زموږ پر سفارت باندې د ایران له ملاتړه د برخمنو ډلو بریدونه یوازې زموږ لپاره خطرناک نه دي، بلکې د عراق د حکومت لپاره هم خطرناک دي.»

امریکایي چارواکو تر دې مخکې هم ویلي وو چې دا د عراق د حکومت مسوولیت دی چې په خپلې خاورې کې د امریکا ډیپلوماتیک تاسیسات وساتي. امریکایي چارواکو دا خبره د بې پیلوټه الوتکې له هغه برید وروسته کړې وه چې د ایران د سپاه پاسداران یو لوی قوماندان جنرال قاسم سلیماني او د عراقي ملېشو یو مهم مشر ابو مهدي المهندس پکې ووژل شول.

دا په داسې حال کې ده چې د بغداد هوایي ډګر ته نږدې دغه هوایي برید په عراق کې په امریکایي تاسیساتو باندې د بریدونو په ځواب کې شوی و.

دغې پېښې په عراق کې یو لړ بحثونه او مظاهرې را وپارولې او مظاهره چیانو او د عراق د پارلمان یو شمېر غړو دا برید د عراق پر حاکمیت تېری وباله او له حکومت څخه یې وغوښتل چې د امریکا پوځ له عراق څخه وباسي.

د راپورونو له مخې، امریکا په عراق کې شاوخوا ۵۰۰۰ عسکر ساتلي چې د داعش ډلې پر ضد عملیاتو کې د عراق پوځ ته سلا مشورې ورکړې او د ضرورت پر مهال یې مرسته وکړي. د روانې میاشتې په سر کې د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون اعلان وکړ چې په عراق کې د خپلو مېشتو ۵۲۰۰ عسکرو شمېر ۳۰۰۰ ته راکموي. د یادونې ده چې په قاسم سلیماني له مړینې وروسته په عراق کې ګڼ امریکایي اهداف په نښه شوي چې ډېر ځاني او مالي زیانونه یې هم اړولي دي. امریکا د دغو بریدونو مسوولیت پر هغو شیعه ډلو ور اچوي چې ایران یې ملاتړ کوي، خو ایران بیا دغه ادعاوې نه مني.

## د کتاب خبرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل

### دڅېړنې کلیات




د اسیا زړه استانبول پروسې هدف سیمه‌ییزې همکارۍ ته پراختیا ورکول دي،د استانبول پروسې له مخې به سیمه‌ییزې همکارۍ په افغانستان کې متمرکزې وي او یو با ثباته او امن افغانستان د اسیا زړه سیمه کې د سوکالۍ لپاره مهم گڼل کېږي.د استانبول پروسې یو مهم هدف د هغو ستونزو او فرصتونو په اړه چې افغانستان، گاونډیان یې او سیمه‌ییز شریکان یې ورسره مخامخ دي خبرې کول دي . په استانبول پروسه کې ۱۴ برخه اخیستونکي هېوادونه، ۱۷ ملاتړي هېوادونه او ۱۲ سیمه‌ییز او نړیوال ملاتړ کوونکي سازمانونه برخه لري . د افغانستان مشرانو هڅې کولې چې د سیمې له هېوادونو سره په سیاسي، اقتصادي او فرهنگي برخو کې دوه اړخیزو او څو اړخیزو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي، د سیمې له هېوادونو سره د گډو گواښونو او فرصتونو شریکول، د اعتماد رامنځته کول او په دوه اړخیزو اړیکو کې د کړکېچ کمول د افغانستان د سیمه‌ییز بهرني سیاست مهمه برخه جوړوله .

د اسیا زړه استانبول پروسې په څلورمه غونډه کې سیاسي او امنیتي همکاري، اقتصادي نږدېوالی، د ترهگرۍ او سازمان شویو جرایمو پر ضد جگړه، د نشه یي توکو د قاچاق پرضد اقدامات او په سیمه‌ییزه کچه د تعلیمي پروگرامونو رامنځته کول د همکارۍ د مهمو برخو په توگه وپېژندل شول . پورتني موضوعات یوازې د افغانستان لپاره نه، بلکې د اسیا زړه پروسه کې د شاملو نورو هېوادونو لپاره هم مهم گڼل کېږي ،د اسیا زړه استانبول پروسې د افغانستان او په یاده پروسه کې د شاملو هېوادونو ترمنځ د همکاریو له پراختیا سره ډېره مرسته وکړه، د بیلگې په توگه په ۲۰۱۱ زکال کې د افغانستان د بهرنۍ سوداگري ۴۸.۱۱ سلنه د اسیا زړه هېوادونو سره و او په ۲۰۱۵ زکال کې د افغانستان د بهرنۍ سوداگرۍ ۷۹.۱۳ سلنه د اسیا زړه له هېوادونو سره وه .

د اسیا زړه استانبول پروسه ځینې مهمې دندې لري او په پروسه کې شامل هېوادونه د دغو دندو ترسره کولو لپاره هڅې کوي . د افغانستان او سیمې په اړه د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ سیاسي مشورې او خبرې اترې،د استانبول پروسه کې د اعتماد رامنځته کولو تدابیرو د تطبیق په موخه د تائید شویو اسنادو تطبیق او عملي کول او د افغانستان په اړه د سیمه‌ییزو سازمانونو او پروسو ترمنځ د پوهاوي له رامنځته کولو سره مرسته کول داسیا زړه پروسې مهمې دندې گڼل کېږي. د اسیا زړه استانبول پروسې پروړاندې ځینې مهمې ستونزې او خنډونه هم شته . د سیمه‌ییزو اقتصادي لومړیتوبونو په اړه د هر اړخیزې او پراخې تخنیکي پوهې نشتون، په غونډو کې د شویو پرېکړو د تطبیق په برخه کې ستونزې، د دوه اړخیزو گټورو فرصتونو د پېژندلو او له ریکا سره د هماهنگۍ په برخه کې د ستونزو شتون، له شانگهای، سارک او ایکو سازمانونو سره کمزورې اړیکې او همکاري،د اقتصادي همکاریو او اهدافو پر ځای سیاسي او امنیتي اهدافو ته زیاته پاملرنه او لومړیتوب ورکول داسیا زړه استانبول پروسې پروړاندې مهمې ستونزې گڼل کېږي . د ستونزو د شتون ترڅنگ د استانبول پروسې د سیمې هېوادونو د مشرانو لپاره د دې زمینه او شرایط برابر کړي، چې د سیمه‌ییزو ستونزو او د هغو د حللارو په اړه خبرې وکړي، باید وویل شي چې د استانبول پروسه په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینگښت لپاره مهمه گڼل کېږي .

**-اسیا زړه استانبول پروسې هېوادونه**

د اسیا زړه استانبول پروسې کې لاندې ۱۴ هېوادونه شامل دي :

۱-افغانستان ۲- اذربایجان ۳-چین ۴- هند ۵- ایران ۶-د قزاقستان ۷-قرغزستان ۸-پاکستان ۹- روسیه ۱۰- سعودي عربستان ۱۱- تاجکستان.۱۲- ترکیه ۱۳- ترکمنستان.۱۴- عربي متحده امارات

**- د اسیا زړه استانبول پروسې ملاتړ کوونکي هېوادونه**

۱-استرالیا ۲-کاناډا ۳-ډنمارک ۴-مصر ۵-اروپایي اتحادیه ۶-فرانسه ۷-فینلیند ۸-جرمني ۹-عراق ۱۰-ایټالیا ۱۱-جاپان ۱۲-ناروې ۱۳-پولینډ ۱۴-هسپانیه ۱۵-سویډن ۱۷-انگلستان ۱۸-د امریکا متحد ایالتونه.

**-د اسیا زړه پروسې کنفرانسونه**

۲۰۱۱ – ترکیه
۲۰۱۲ – افغانستان
۲۰۱۳ – قزاقستان
۲۰۱۴ – چین
۲۰۱۵ – پاکستان
۲۰۱۶ – هند
۲۰۱۷ – اذربایجان
۲۰۱۸ – ترکیه

**-د اسیا زړه استانبول پروسې ملاتړ کوونکي سازمانونه :**

۱- اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو)،۲- د شمالي اتلانتیک تړون (ناټو)،۳- د شانگهای د همکاریو سازمان،۴-اروپایي اتحادیه،۵-د ملگرو ملتونو سازمان،۶-اسیایي پراختیایي بانک،۷-د سویلي اسیا د همکاریو سازمان(سارک)،۸ - په اسیا کې د باور رامنځته کولو او تعامل کنفرانسونه(سیکا)،۹- داسلامي همکاریو سازمان،۱۰- د مرکزي اسیا داقتصادي همکاریو پروگرام.

**دوام لري...**

# دانتې

شفیق امیرزی



دانتې یا په افغانستان کې په دانته مشهور، ایټالیوي لیکوال دی. هغه په ۱۲۶۵ز کال کې داسې مهال چې اروپا د عیسوي دین د افراطي او لاس خوړلې بنې له درکه په توره تیاره کې وه، زیږېدلی دی. هغه مشهور کتابونه لیکلي دي او تر ټولو مشهور یې بیا کمېډي دی، چې وروسته بیا د الهي کلمه هم ورسره ذکر شوه او نوم یې د الهي کمېډي ته واوښت. دا کتاب د تاریخ په سلو مهمو کتابونو کې راځي چې د نړۍ په گوټ گوټ کې د ادبیاتو مینه‌وال د دغه کتاب له نامه او منځپانگې سره اشنا دي. دانتې تر مرگ وروسته په ایټالیا، اروپا او اوس د سلگونو کلونو په تېرېدو په نړۍ کې مشهور نوم دی. د دانتې پوره نوم دانتې آلیگیري دی. د هغه مشهور کتاب کمېډي د نړۍ په تاریخ کې بې بدیله شهکار گڼل کېږي. دا د انسان د فکر او معنوي اړخ په اړه یوه ستره منظومه گڼل کېږي. دی په دې منظومه کې دې خبرې ته اشاره کوي چې انسان د ارادې له اړخه ازاد دی او د همدې ازادۍ پر بنسټ دی د جزا او جایزې لایق گرځي. د ده په حق کې عدالت تامینېږي او خپله بدله به اخلي. د دانتې کورنۍ په اشرافو کې راځي. خو سره له دې هم هغه د خپل ژوند پر مهال ساده و، ډېر زرین او رنگین ژوند یې نه خوښېده، بې ریا او بې دبدبې و. دی لا تنکی ځوان و چې مور یې مړه شوه. پلار یې بل واده وکړ، له خپلې میرې سره یې نه لگېده او هڅه یې کوله چې له خپل پلار، میرې او خپلو دوو میرزیو وروڼو لرې وي. سره له دې هم د دانتې له اثارو ښکاري چې هغه خوشاله ژوند درلود، له کورنۍ یې لرې و، خو بیا هم له کورنۍ ښې خاطرې لري.

دانتې په خپل کور او بیا له هغه وروسته د هغه مهال د فلورانس د راهبانو په ښوونځیو کې زده کړې پیل کړې. دا مذهبي ښوونځي وو چې راهبانو به یوازې د اشرافو اولادونو ته هلته د زده کړو اجازه ورکوله. ده هلته گڼ کتابونه ولوستل او له خپل ځان سره یې په نوې ځوانۍ کې د ادبیاتو مطالعه پیل کړه.

په ۱۲۸۳ ز کال کې دانتې د اشرافو د کورنۍ له یوې پېغلې سره واده وکړ. ویل کېږي چې له دې نجلۍ د دوو اولادونو پلار شو. یو یې زوی او بله لور. د دانتې د اثارو له مطالعې ښکاري چې هغه له دې واده هېڅ خوشاله نه و، هېڅ احساس یې نه درلود او نه هم د ده په ژوند کې اغېزناک و. په خپلو اثارو کې یې د ژوند، اولادونو او خپلې مېرمنې په اړه هېڅ نه دي لیکلي. خو ویل کېږي چې د دانتې په ژوند کې بله مېرمن وه او د ده پر ژوند یې پوره اغېز درلود. دانتې دا د فلورانس له شپېټو ښکلو ښځو یاده کړې وه. دانتې وایي، له ډېرې مودې وروسته له دې مېرمنې سره معرفي کېږي او بیا یې د هغې شخصیت او ښکلا پر هنر او ادبیاتو اغېز کوي.

د دانته د اثارو څېړونکي وایي، دا مېرمن بیچه نومېده. د فلورانس اوسېدونکې وه چې وروسته یې د یوه بانک‌وال له زوی سره واده وکړ. دانتې یې په اثارو کې د بیاتریچه په نامه یادوي او د هغه لیدل د ځان لپاره د خوښۍ لامل بولي. خو په لنډه توگه که ووایو، تر ډېره دانتې له دې کسانو ځان ته یو خیالي او الهامي شخصیتونه جوړ کړي وو. لومړی همدا مېرمن او وروسته بیا یوه بله مېرمن د دانتې په ژوند کې راځي چې دی په خپلو شعرونو او ادبي لیکنو کې ځانگړی ځای ورکوي. دا څېړې لویوي او ځان ته یې د الهام او خوښۍ سرچینه بولي. دا ځانگړنه یوازې په دانتې کې نه ده، بلکې د نړۍ ډېری شاعران دي چې ځان ته یوه الهامي څېره پیدا کوي. ځان په هغه پورې تړي، دې تړاو ته یا مینه وایي او یا د کومې بلې عاطفي اړیکې نوم ورباندې ږدي، خو په ټوله کې یو رواني ډاډ دی چې لیکوال یا شاعر یې ځان ته ورکوي.

د ادبیاتو او مینې تر څنگ دانتې فعال سیاسي ژوند درلود. د فلورانس د حکومت واگې به تل د دوو ډلو تر منځ په کشمکش کې وې. یا به گویلفیان ورباندې واکمن وو او یا هم گیلبینیان. دانتې له گویلفیانو سره و، دې خلکو د پاپ ملاتړ کاوه. گیبلینیانو بیا د امپراتور اوامر منل. د دې دواړو قبیلو تر منځ به تل جگړې او ناندرۍ روانې وې. یو وخت بالاخره گویلفیانو ښار ونیو. تر نیولو وروسته ورو ورو د دوی تر منځ اختلافات پیدا شول، دانتې هم له دوی خپله لار بېله کړه او له گیبلینیانو سره یو ځای شو. وروسته وروسته دی په همدې مسئله محکوم هم شو.

د دانتې د سیاسي سفر لومړی مزل په ۱۲۹۵ز کال کې پیل شو. هغه مهال چې تازه تازه په سیاسي محفلونو کې په سیاسي څېره بدل شو. دی د دولت غړی و، د روغتیایي کارکوونکو د ټولنې غړی و، د فلورانس د خلکو د ولسي شورا غړی و او په ښار کې د اجرایي مقاماتو د گومارلو د شورا غړی هم و. خو دا واک او ځواک تر ډېره یاري ورسره ونه کړه. وروسته وروسته د فلورانس حکومت دانتې د فساد، اختلاس، د پاپ پر وړاندې د توطئې په جوړولو، په فلورانس کې د ارامتیا د له منځه وړلو او نورو جرمونو په تور محاکمه او تبعید کړ. کله چې تبعید شو، هېڅ وخت یې خپلې هڅې ونه درولې او تل یې هڅه دا وه چې فلورانس ته را وگرځي. د فلورانس د حکومت چارواکو ته به یې لیکونه لېږل او له دوی به یې د تبعید د ختمولو غوښتنه کوله. د فلورانس د ښار په اړه به یې شعرونه لیکل او چارواکو ته به یې رالېږل. ده ټولې هڅه وکړې او غوښتل یې د یوه فلورانسي په توگه خپل بایللی هویت او حیثیت بېرته را وگرځوي. خو یوه خبره وه چې تر خپلو باورونو یوه زره هم نه راښکته کېده. حکومت تر ټولو مهم شرطونه همدا ورته اېښودل، چې خپل باورونه او فکر دې پرېږدي او د پاپ اطاعت دې وکړي؛ خو هغه ویل چې د ارادې پر ازادۍ باور لري او دا یې عقیده ده، نو د پاپ اطاعت ته اړ نه دی. تبعید د لیکوال دانتې په ژوند کې ډېر بدلونونه راوستل. هغه ډېر سفرونه وکړل، د ایټالیا په شمال کې وگرځید. د خپل ژوند وروستي کلونه یې هم په راونا کې تېر کړل. داسې ښکاري چې دا یې د ژوند اسانه کلونه وو، دی هم راحت و او ښایي نور له پښو لوېدلی و او د سفر، چکر یا ناندرۍ توان یې په وجود کې نه و.

په راونا کې له ځانگړي درناوي برخمن و. خلکو یې شعرونه لوستل. شاعرانو ورسره اړیکې لرلې، د دوزخ او برزخ په نامه د اثارو له خپرولو او منظومولو وروسته ډېر مشهور شوی و. د ایټالیا په ډېری ښارونو کې یې خلک په قدر پوه شوي وو، خو په فلورانس کې لا هم د ده پر ورتگ بندیز و او گواښل شوی و که دغه ښار ته د ننه کېږي، نو د اعدام حکم به ورباندې اجرا شي.

د دانتې اثار

نوی ژوند یې له مشهورو کتابونو دی. مخکې مو هم وویل چې دا یې د فلورانس له یوې اوسېدونکې سره د مینې کیسه ده. د دانتې بل کتاب مېلمستیا نومېږي، هغه کتاب چې مور د دانتې د دویمې مینې خاطراتو ته له ځان سره بیایي. دا کتاب یې ډېرو څېړونکو د مینې یوه ژوره فلسفه هم بللې ده. دانتې د مېلمستیا په کتاب کې په لوست او د عقل پر کارولو بحث کوي. دی په ډېره ښه توگه واضح کوي چې ولې او څه ډول انسان کولی شي د عقل په مرسته او ملگرتیا د خدای مینې او نږدېوالي ته ورسېږي. دی ښه استدلالونه راوړي او خپلې خبرې په ډېره ښه توگه واضح کوي او انسان ته دا ښیي چې عقل خدای ته د نږدې کېدو ښه لاره ده. له دې ټولو اثارو سره سره د دانتې تر ټولو ستر شهکار او بې بدیله اثر کمېډي دی. دا کتاب له دریو برخو جوړ شوی: دوزخ، برزخ او جنت.

د دانتې بل کتاب سلطنت نومېږي. په دې کتاب کې دانتې هڅه کوي چې د یوه سلطان یا پادشا په اړه خپل نظریات وړاندې کړي. د بشریت د سوکالۍ په اړ خبرې کوي او د یوه غیر روحاني سلطان ځانگړنې ښیي. دی فکر کوي چې نظریات یې د عدالت او برابرۍ په اړه نوي او ښه دي، خو څېړونکي وایي چې د دانتې نظریات د یادو مواردو په اړه زاړه او د تیاره پېړیو له نظریاتو سره کوم ځانگړی توپیر نه لري. په دویمه برخه کې بیا هڅه کوي چې د سلطان د پیروۍ په اړه خپل نظریات وړاندې کړي، پخواني روم ته ځي او دا چې دی ایټالیوی دی، نو رومیان په حقه بولي او په خبره یې نورو یې باید اطاعت کړی وای. په دویمه برخه کې غواړي چې داسې وښیي چې د روم امپراتوري سپېڅلې وه او په باور یې د خدای کمک ورسره و، نو ځکه پیاوړې وه او په همدې اړه یې یوه پوښتنه مطرحه کړې ده، چې وروسته یې ځوابونه ورته ویلي دي.

مخکې مو هم وویل چې د دانتې تر ټولو مشهور اثر کمېډي دی. دا کتاب د نړۍ په سلو مهمو او مشهورو کتابونو کې ولاړ دی. کتاب په لومړي سر کې یوازې کمېډي نومی دی چې وروسته د الهي کمېډي نوم ورباندې کېښودل شو. دی وایي، پر دې کتاب یې ځکه کمېډي نوم اېښی چې کمېډي د کلیوالې سندرې په مانا دی او تل یې پای خوشاله کوونکی وي، نو ځکه ده هم له دوزخ پیل کړی، برزخ ته ځي او وروسته یې کتاب په جنت چې خوشاله کوونکی دی، پای ته رسېږي.

څوک په دې اړه معلومات نه لري چې د کمېډي منظومه څه وخت پیل شوه. لیکل یې څه وخت پیل شوي او پای یې په کوم کال کې و. دانته په خپله د دې کتاب په اړه وایي: غواړم دا کتاب خلک له تیارو وژغوري، ټولو هغو کسانو ته لارښود شي چې په دې نړۍ کې په تیارو کې لار ورکې دي. دانته وایي چې د کتاب عمده هدف یې د خدای په لور د سفر انځور دی. د پوهانو په باور، لیکوال په دې کتاب کې هڅه کړې چې هغه انځور وړاندې کړي چې خدای ته یې د رسېدو لپاره په خپل فکر کې جوړ کړی دی. کتاب په دې جملو پیلېږي: د خپل ژوند د لارې په نیمایي کې مې ځان په یوه تیاره ځنگل کې پیدا کړ. سمه لاره مې ورکه کړې وه. د دې ببرو او لویو ځنگلونو څرنگوالی او څنگه والی که تاسې ته ووایم ډېره به سخته شي. دومره وېروونکي وو چې ان یادونه یې هم د انسان په زړه کې وېره پیدا کوي. خو زه په دې ځنگل کې ورک وم او اوس تاسې ته هغه څه وایم چې ما هلته لیدلي دي او زما مخې ته راغلي دي. دانتې همداسې ځي په ځنگل کې د ونو، بوټو، ژوو او نورو شته شیانو په اړه خبرې کوي او خپل سفر ته ادامه ورکوي.

دانتې خپل نظریات لرل، ځینې نظریات یې د معمولي خلکو نظریات وو چې ورسره منل شوي دي، خو ځینې یې لا هم د خلکو له غبرگون سره مخ دي. چا ته د منلو نه دي. د هغه وخت خبرې وې او اوس کوم ځای نه لري. خو بیا هم د نړیوالو ادبیاتو په برخه کې دانتې د مطالعې ځای لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ٤٦۷ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۷,٦۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# نوښت او پر ژوند د هغه اغېز

ژباړه: امان الله «حنیفي»



په ۱۹٦۵ ز کال کې د پوهنتون په لومړي ټولگي کې وم. یوه ورځ استاد له موږ د نوښت ازموینه اخیسته، هغه غوښتل موږ معلوم کړي چې څوک نوښتگر دي، کله یې چې د ازموینې نمرې اعلان کړې، په ټولگي کې تر ټولو ټیټې نمرې زما وې، سخت خجالت شوم، بیخي ډېر خجالت.
ما ډېرې ازموینې ورکړې وې او له دریو پوهنتونو مې اسناد اخیستي وو، خو له دې ټولو سره سره دې نمرو سخت خپه کړم. پوهېدم چې مسلک مې څه داسې دی چې له ډېرو خلکو سره باید ارتباط ولرم او دا اصلاً راته د منلو نه وه چې زه د یو عیب لرونکی رهبر وم. کله چې یوڅوک نوښتگر فکر ونه لري، څنگه کولای شي ځان نوښتگر کړي؟
کله چې له هغه ټولگي راووتم، دوه څیزونه مې ذهن ته راغلل: «یو دا چې هېڅکله به له خلاق ذهن پرته خپلو بالقوه وړتیاوو ته ونه رسېږم او بله دا چې د خلاق اوسېدو لپاره به لار پیدا کوم.»
نن ورځ له ۵۰ کلونو وروسته، ډېری کسان راته وایي چې زه په نوښتگر ډول فکر کوم. د ټیم ټول غړي مې راځي څو په خلاقانه ډول د انتخابونو او هغه ته د رسېدو د اغېزمنو لار په پیدا کولو کې راسره مشوره وکړي او د خلکو په منځ کې په اړیکو جوړولو کې د خلاق انسان په نوم پېژندل شوی یم. دا ټول د دې شاهدي ورکوي چې ما په دې برخه کې ډېر پرمختگ کړی او تاسې هم کولای شی.
د تفکر د نوښت وړتیا په واسط کولای شی د ژوند د بېلابېلو اړخونو په اړه ښه اقدام او ښه انتخابونه وکړی. کوم کسان چې داسې دي، هغوی د ستونزو د حل لپاره تر ټولو ښې لارې چارې لټوي. هغوی هر وخت له نویو فرصتونو استفاده کوي او له نورو سره مرسته کول یې د پلان په لومړۍ کرښه کې قرار لري، څو له هغوی سره په مرستې کولو سره شاوخوا وضعیت ښه کړي. هغه کس چې د نوښتگر تفکر وړتیا پیاوړې کوي، له ټولو ننگونو سره د مبارزې نوې لارې هم لټوي.
ایا دا سمه ده چې ځینې کسان له پیاوړې نوښتگرې وړتیا سره دنیا ته راغلي دي؟
البته چې سمه ده. هغه کسان چې دغه خدایي وړتیا لري څو د ژوند په هره برخه او هره شېبه کې ترې گټه واخلي، ډېر کم دي. د دې برخې ځینې متخصصان وایي، ټول انسانان له نوښتگرې وړتیا سره دنیا ته راغلي دي، خو ډېری یې ان له لومړیو له دې وړتیا د گټنې په برخه کې په بې غورۍ سره لوی او بالاخره بیرته همداسې له دې دنیا تللي دي.
مادلین ال انگل وایي: «ټول ماشومان هنر لرونکي دي، دا ملامته ټولنه ده چې د هغوی ډېریو په لویېدو سره له هغوی د خلاقیت وړتیا اخلي».
تاسې دا وړتیا لری چې خپله نوښتگره وړتیا را ژوندۍ کړی او پر هغه سربېره، نورې د نوښت لارې هم پیدا کړی. دا چې ما وکولای شوای، تاسې هم کولی شی. غواړم په دې اړه درسره خپلې تجربې شریکې کړم. تاسې یې هم یوه یوه عملي کړئ، له هغه درس واخلئ او کوښښ وکړئ چې د هرې یوې لپاره تر ټولو ښه ځواب پیدا کړی.
ما ویل، زه باوري یم چې د هرڅه لپاره یوه حللاره شته. د Reactive کلمې مانا انفعالي او د Creactive کلمې مانا بیا خلاقیت یا نوښت ده. دا دوه کلمې یوازې له C پرته نورې له ورته حرفو څخه جوړې شوې دي. د پرمختگ لار په پیل کې مې چې د خلاقیت پر لور خپل مسیر بدل کړ، لومړی تصمیم مې د C حرف د ځای بدلول وو. یانې خپلې اندېښنې مې پر ننگونو هغو بدلې کړې چې بالاخره زه له یو منفعل شخص څخه پر یو نوښتگر هغه بدل شوم. ما له ځان سره دا ژمنه کړې وه چې د هرې پوښتنې لپاره حتمًا یو ځواب شته. دا پوښتنه که هرڅه وي. دا د بېلابېلو حالتونو د منلو په مانا ده. ما د همدې پوښتنې ځواب «ایا ځواب یې شته؟» پر «ځواب یې څه دی؟» بدل کړ.
د فکر کولو همدا طرز مې د دې لامل شو چې ځینې راباندې نیوکې وکړي، ځکه هغوی زما په دې بدلون پسې مسخرې کولې او دا یې لیونتوب باله. خو همدې ننگونې له ما سره تر حد زیات کمک وکړ.
«جف بزوس» د یو لوی انټرنیټي شرکت مؤسس وایي: «زه له ژنتیکي لحاظه یو خوشبین شخص یم. ځینې وخت خو بعضې کسان راته وایي چې تا له ځانه لیونی جوړ کړی، دا ستونزه هېڅ حل نه لري. خو زه بیا داسې فکر نه کوم. هغه ستونزه یوازې وخت، زیاتې حوصلې او بیا بیا ازمویلو ته اړتیا لري.» نوښت د «ایا ځواب یې شته؟» پوښتنه «ځواب یې څه دی؟» هغې ته اړوي.
ځکه د بزوس په څېر بریالي کسان د نه حل وړ ستونزې ته زیات وخت ورکوي، صبر کوي او هغه په وار وار ازمویي. ځکه نوښت هر وخت؛ وخت، صبر او ازمویلو ته اړتیا لري. تاسې هم باید دا خبره ومنئ چې د هرې ستونزې لپاره یوه حللاره شته. د فکر همدا ډول ما ته جالب داستانونه لري.
نوښت یانې د «ایا ځواب یې شته» پوښتنې «ځواب یې څه دی» هغې ته اړولو ته ویل کېږي.
دا چې د ځواب پیدا کول وخت غواړي، ممکن په دې هم پوه شی چې د هر درد پای د بل درد په شروع پای ته رسېږي. خو بالاخره دا دردونه له ځان سره د خوښۍ یو رنگ راوړي.

## نادري: په بین الافغاني خبرو کې اوربند د افغان حکومت او خلکو اساسي غوښتنه ده

په قطر کې د افغان حکومت مرکچي پلاوي غړي وایي، په بین الافغاني خبرو کې اوربند د افغان حکومت او خلکو اساسي غوښتنه ده.
د یاد پلاوي غړي نادر نادري تېره ورځ په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې د دواړو لورو ترمنځ لا هم په کړنلاره کې پر اختلافي ټکو هوکړه نه ده شوې.
هغه زیاته کړه: «زموږ ټول کوښښ همدا دی چې په دې دوه مسایلو بحثونه تمام شي، نن(پرون) به هم مجلسونه ولرو، تعهد مو همدا دی چې مشترکه لاره ورته پیدا کړو، چې اصلي بحث ته ولاړ شو، د افغانانو لپاره اصلي بحث د اوربند مسئله ده، چې تاوتریخوال کم، جگړه ودرېږي او افغان وژنه پای ته ورسېږي.»
نوموړي زیاته کړې، د طالبانو لخوا په کړنلاره کې د دوو لانجمنو موضوعات وړاندې کولو، د اساسي مسایلو چې د اوربند موضوع هم پکې شامله ده، مخه نیولې ده.
د طالبانو له خوا له افغان حکومتي پلاوي غوښتنه شوې، که د مذاکراتو په بهیر کې د مسایلو د حل لپاره له ستونزو سره مخ کېږي، نو حنفي فقهې ته به مراجعه کېږي او دغه شان د امریکا او طالبانو تر منځ شوې هوکړه به هم د خبرو بنسټ وي، خو دغه څه د افغان حکومت مرکچي پلاوی ورسره نه مني.
په ورته وخت کې په قطر کې طالب چارواکو په خپلو تازه څرگندونو کې ویلي، که په بین الافغاني خبرو کې مقابل لوری د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه بنسټ ونه گرځوي، د دې امکان شته چې بین الافغاني خبرې له بُن‌بست سره مخ شي.
بلخوا ولسي جرگه وایي، په بین الافغاني مذاکراتو کې باید د مېز دواړه لوري اوربند ته لومړیتوب ورکړي. د دې جرگې مشر میر رحمان رحماني د تېرې ورځې د عمومي ناستې په پرېکړه لیک کې وویل، طالبانو او حکومتي پلاوی باید ژر تر ژر په خبرو کې لانجې هوارې او اوربند وکړي.
رحماني زیاته کړه: «په دوحه کې د سولې مذاکرات باید ژر تر ژره پایلې ته ورسېږي، پرته له ځنډه اوربند اعلان او جگړه پای ته ورسېږي.»
دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان وړمه ورځ وویل چې د افغانانو د روانو خپلمنځي خبرو له اُمله جگړه ختمېدو ته نږدې شوې ده.
نوموړي واشنگټن پوسټ ورځپاڼې ته په لیکلې مقالې کې ویلي، په افغانستان کې سوله او ټیکاو د بهرنیانو په زور نه، بلکې د افغانانو د خپلمنځي خبرو په پایله کې رامنځته کېدای شي.

## لویه څارنوالي: په وروستیو څو کلونو کې د افغان خبریالانو د وژنې په تړاو ٥٦ کسان نیول شوي

د سپټمبر ۲۸مه اطلاعاتو ته د لاسرسي په نړیواله ورځ، افغان چارواکو له رسنیو سره د لسگونو خبریالانو د وژنو د قضیو د ارزونو پایلې شریکې کړې.
د لوېې څارنوالۍ مسوولین وایي، په وروستیو کلونو کې یې د خبریالانو د وژنو د ۳۰ قضیو په تړاو ٥٦ کسان نیولي چې له څېړنو وروسته، د هېواد محاکمو یو شمېر په بند او یو شمېر په اعدام محکوم کړي دي.
د لوېې څارنوالۍ ویاند جمشید رسولي وایي، چې د افغانستان د خبریالانو د مرکز او د افغانستان د خبریالانو د فدراسیون له خوا ورته د افغان خبریالانو د وژنو، وهلو ډبلو، موقتي بندي کېدو او له دې سره د تاوتریخوالي څه کم ۱۵۰ قضیې رسېدلي چې ډېری یې ارزول شوي او محاکمو ته سپارل شوي دي.
هغه زیاته کړې: «د۳۰ خبریالانو د وژل کېدو قضیې چې د افغانستان څارنوالۍ ته رسېدلي، په تړاو یې٥٦ کسان پېژندل شوي او نیول شوي دي، دا قضیې په مرکز او هم په ولایتونو کې وې، موږ د قضیو د عاملینو د ١٦، ٢٠، ٢٢ او دېرشو کلونو د حبس او حتی د اعدام د حکم شاهدان یو.»
رسولي ویلي، سربېره پر دې په وروستیو دوو کلونو کې له خبریالانو سره د تاوتریخوالي۲۰ قضیې ارزول شوي اومحکمې ته لېږل شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې، د افغانستان د خبریالانو مرکز او د افغانستان د خبریالانو فدراسیون د دوی په جلاجلا اعتراضیه لیکونو کې پر حکومت ټینگار کړی چې د افغان وژل شویو خبریالانو دوسیې دې ډېر ژر وڅېړل شي او د پېښو عاملین دې په جزا محکوم شي.
د خبریالانو د مرکز او د خبریالانو د فدراسیون استازیو، شاه محمود شینواري اوحجت الله مجددي تېره ورځ په یوې خبرې ناسته کې چې د افغانستان د رسنیو د مرکز رییس لطیف محمود، د کورنیو چارو د وزارت ویاند طارق ارین هم حاضر وو، وویل، دولت ته یې دغه اعتراضیه لیکونه په مرکز او ولایتونو کې د خبریالانو د مرکو پر مټ ترتیب کړي دي.
په ورته وخت کې د حکومت د رسنیو د مرکز رییس لطیف محمود ډاډ ورکړ چې د خبریالانو د وژل کېدواو له دوې سره د تاوتریخوالي یوه قضیه به هم پرته ارزولو پاتې نه شي.
هغه زیاته کړې: «د افغانستان دولت اطلاعاتو ته د لاسرسي او د اطلاعاتو خپرېدو ته معتقد او ژمن دی، د افغانستان رسنۍ او د بیان ازادي د حکومت او خلکو گډه لاسته راوړنه ده او موږ دغه لاسته راوړنه خوندي ساتو او ملاتړ یې کوو.»
دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې مخکې د ازادو رسنیو ملاتړې اداري یا نی ویلي وو چې له گڼ شمېر افغان خبریالانو سره یې د مرکو پر مټ موندلې چې شاوخوا ۸۰ سلنه افغان خبریال اطلاعاتو ته د لاسرسي له چارې راضي نه دي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلي اتمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۹مه | ۶۰۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| ښار | لوړه | ټیټه |
| --- | --- | --- |
| کابل | ۲۳ | ۱۲ |
| هرات | ۲۵ | ۹ |
| کندهار | ۳۱ | ۱۵ |
| بلخ | ۲۷ | ۱۶ |
| ننگرهار | ۳۲ | ۲۱ |
| خوست | ۲۹ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۲۴ | لمر ختل ۰۵:۴۶ | ماسپښین ۱۱:۴۵ | مازیگر ۰۳:۰۸ | ماښام ۰۵:۴۲ | ماخوستن ۰۷:۰۶

## یافته ها: با گذشت سه ماه پروژه تیل دهی به آریانا به شرکت برنده واگذار نشده است




شرکت«افغان لیگو» که سه ماه قبل برنده قرارداد تیل دهی به شرکت هوایی آریانا شده، می گوید که پروژه به این شرکت واگذار نشده و شرکت قبلی با استفاده از روابط با«برخی مقامها»، هنوز هم در این بخش فعالیت دارد. یافته های آژانس خبری پژواک نشان می دهد که قرارداد این پروژه در حالی با شرکت افغان لیگو امضا شده است که اداره تدارکات ملی شرکت یادشده را قبل از منظوری پروژه نامناسب خوانده بود و اکنون این پروژه در عوض سپردن به شرکت برنده به بررسی مجدد رفته است.

به اساس معلومات، پیش ازاین نیزچند پرواز طیارات شرکت هوایی آریانا به علت نداشتن تیل برای ساعت ها به تأخیر افتاده بود که درنتیجه خساره به این شرکت وارد شده است.

بربنیاد معلومات ادارۀ تدارکات ملی،شرکت نشنل فیول به اساس قرارداد مسئولیت تیل دهی به «د افغان هوایی شرکت» از اوایل سال ۱۳۹۷ تا پایان سال ۱۳۹۸ را داشت و به همین دلیل برخی تاسیسات اداره هوانوردی ملکی در میادین هوایی کشور به همین شرکت در بدل کرایه سپرده شده بود.

اما در نامۀ ریاست دارالانشای کمیسیون تدارکات ملی که کاپی آن به دسترس آژانس خبری پژواک قرار گرفته، آمده است که پروژه یادشده (تهیه و تدارکات تیل طیارات تی سی یک (TC-1) ضرورت د آریانا افغان هوایی شرکت برای میادین داخلی دارای چهارلات) به شرکت(افغان لیگو) داده شده و این پروژه را کمیسیون تدارکات ملی در ۲۹ ثور سال ۱۳۹۹ منظور کرده است.

## نړۍ




## راپورونه: د یونان حکومت غواړي چې سلګونه کډوال له لیسبوس ټاپو څخه بل ځای ته ولېږدوي



د راپورونو له مخې، د یونان حکومت غواړي چې ۲۳۰۰ کډوال له لیسبوس ټاپو څخه بل ځای ته ولېږدوي. دا په داسې حال کې ده چې د لیسبوس په موریا کمپ تېره میاشت اور ولګېد او په زرګونو پناه غوښتونکي بې سرپناه شول.

د یونان دولتي راډیو- ټلوېزیون ویلي، د دغه هېواد حکومت تېره ورځ تر ۷۰۰ زیات کډوال له لیسبوس ټاپو او په اور له یوه سوځېدلي کمپ څخه خپل عمده قلمرو ته لېږدولي دي.

دغه کډوال چې په یونان کې یې پناه اخیستې، تېر ماښام مهال په یوه لویه کښتۍ کې ولېږدول شول.

په ورته وخت کې یونان په پام کې لري چې ۲۳۰۰ نور کسان هم چې کډوال معرفي شوي، د را روانې پنجشنبې یا هم بلې دوشنبې په ورځ خپل عمده قلمرو ته ولېږدوي.

د لیسبوس ټاپو په موریا کمپ کې تېره میاشت تر اورلګېدو وروسته د یونان د کډوالو وزیر نوتیس میتاراکیس د لیسبوس ټاپو مرکز ته څېرمه د کارا تیپي په نوم کمپ د تشولو پلان اعلان کړ. د موریا کمپ تېره میاشت وروسته له هغې ویجاړ شو، چې لومړی پکې اور ولګېد. دغه کمپ چې د اروپا په کچه د کډوالو تر ټولو لوی کمپ ګڼل کېږي، په لیسبوس ټاپو کې له موریا کلي سره څېرمه پروت دی.

په دغه کمپ کې تر ۱۲ زرو ډېرو بې سرپناه کډوالو او پناه غوښتونکو ژوند کاوه، چې ډېری یې د افغانستان، افریقایي هېوادونو او سوریې وګړي ګڼل کېږي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا له کبله د مړو شمېر تر یو میلیون واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۳۳ میلیونو واوښتې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او دری زره څلور کسان مړه شوي او نږدې ۲۵ میلیونه کسان بېرته تړي رغېدلي دي.


د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د زیاتو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټول مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې اوو میلیونو او ۳۲۱ زرو او ٤٦٥ ته او د مړو شمېر ۲۰۹ زره او ٤٥٤ ته رسېدلی دی.

له امریکا وروسته هند د شپږ میلیونو او ۷۸ زره او دوه سوه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د څلور میلیونه او ۷۳۲ زره او ۳۰۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ دریېم، روسیه د یو میلیون او ۱۵۹ زره او ۵۷۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ څلورم او کولمبیا د ۸۱۳ زره او ۵٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز پېرو، هسپانیا، مکسیکو، ارجنټاین او جنوبي افریقا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ژونـــد


## سپما؛ د پېرلو لپاره ځان مه تحریکوئ



که څه ته اړتیا نه لری، نو هسې په مغازو مه ګرځئ. مالي پروګرام جوړول یو عاقلانه کار دی. مه پرېږدئ چې احساسات او خرابات مو دغه پروګرام در ګډوډ کړي. ډېری کسان شته چې له پېرلو خوند اخلي، خو تاسو باید خپلې پیسې په غیر ضروري شیانو ونه لګوئ. کله چې بې خوبه، ناروغ او تر تاثیر لاندې وی، نو سمه پرېکړه نه شی کولی. دغه راز که په غوسه وی، په لوړ غږ موزیک اوری او د سودا اخیستو لېست در سره نه وي، بیا هم هڅه مه کوئ چې کوم څه وپېرئ. اولادونه او هغه کسان د توکو د پېرلو لپاره مه درسره بیایئ، چې د ډېر څه اخیستلو عادت ولري. ان ستاسو نږدې دوست چې ټولو پرېکړو ته مو درناوی لري، کېدای شي د دې لامل شي چې تاسو یو غیر ضروري توکی وپېرئ او سپمولې پیسې مو پرې ولګوی. د بانکي کارتونو له لارې څه مه پېرئ. دا چې د کارت په کارولو سره پیسې په فزیکي ډول نښکته او پورته نه کېږي او نه پوهېږی چې څومره پیسې مو لګولې دي، نو ښایي ډېر لګښت وکړی او سپما کړې پیسې مو له لاسه ووځي.

## اپل؛ واچ٦ او واچ اېس‌اي معرفي کړل

ډېری وخت اپل کمپنۍ خپل ځیرک ساعتونه له آیفون ځیرکو موبایلونو سره معرفي کوي، خو دا ځل یې خپل نوي ساعتونه له آیفونونو څخه وړاندې له نوي اېپډ سره کاروونکو ته معرفي کړل. اپل کمپنۍ دا ځل دوه مختلف ځیرک ساعتونه وړاندې کړي، چې اپل واچ٦ او اپل واچ اېس‌اي نومول شوي دي او اپل واچ اېس‌اي د اپل ځیرکو ساعتونو ارزان بیه بڼه ده. اپل کمپنۍ اپل واچ٦ ته ځانګړې پاملرنه کړې او ډېرې نوې ځانګړنې یې په کې اضافه کړې دي. دغه ځیرک ساعت کې له کووېډ-۱۹ سره د مبارزې لپاره د لاسونو وینځلو ردیابي کوونکی او په وینه کې د اکسجن کچې څارنې ځانګړنې ورکړل شوې دي.



اپل کمپنۍ وایي چې دغه ساعت په هرو ۱۵ ثانیو کې په وینه کې د اکسجن کچه معلوموي او که دغه کچه له ټاکلې اندازې ټیټه وي، نو کاروونکي ته به خبر ورکوي. دغه ځیرک ساعت چې د کاروونکو خوب هم ردیابي کوي، په دریو رنګونو کې به خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک ساعت کې نوی اېس٦ پراسېسر ورکړل شوی چې د تېر کال په پرتله ٪۲۰ چټک دی.

د (ATM) یا صرافی خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخیستلو اسانتیا

د افغانستان د تادیاتو سیستم (Afghanistan Payment System) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پیرودونکي چې له دغه سیستم سره تړلی وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.

همدارنګه د عزیزي بانک محترم پیرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په ګټنې له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیستم سره نښلول شوي دي.

عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پیرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.

www.azizibank.af | 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank

